سر یال نمبر: 466

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# جنوبي وزيرستان: د خوارجو خلاف د امنيتي ځواکونو لويه بريا اووه خوارج په شمول د مطلوب ترهګر وژل شوی

د جنوبي وزيرستان په وانه کې امنيتي ځواکونو د يو ډېر پېچيده او خطر ناک عملياتو په ترځ کې د ترهګرو په ګډون اووه تنه خوارجيان وژلي دي۔ وسلې، مهمات، مخابراتي وسايل او عصري ماينونه کشف او ترلاسه شوی۔

**دتفصيلاتو له مخې په سيمه کې ميشتو امنيتي ځواکونو په وخت سره افغانستان ته د ترهګرو د تيښتې لار په ګوته کړه او تعقيب يې کړ، چې پر مهال يې ترهګرو په يوه غار کې پناه واخيسته او له امنيتي ځواکونو سره يې څو ساعته په عصري وسلو ډزې وکړې۔**






**امنيتي ځواکونو په پوره مسلکيتوب او غوره ستراتيژۍ سره د ترهګرو د تېښتې ټولې هڅې شنډې کړې او د يوه مطلوب ترهګر زرقل په ګډون اووه تنه خوارج يې ووژل۔ په داسې حال کې چې د امنيتي ځواکونو يو سرتېری د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ۔**

د ټي ټي پي خوارج به د خپل منافقت په ساتلو سره هيڅکله د خپلو مړو د منلو جرات ونه کړي۔

په وانا او مضافاتو کې د ګمارل شوي امنيتي ځواکونو يوه لويه لاسته راوړنه د لوی شمير خوارج وژل دي۔ چې د سيمې اوسيدونکي ورته درناوي کوي۔ په داسې حال کې چې امنيتي ځواکونه هوډ لري چې بريالي عمليات به د خوارج تر بشپړ له منځه وړلو پورې دوام وکړي۔ که خدای کول